مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد معصوم هوتک

۲۰۱۹/۰۷/۰۹

# یــو، دوه

دوه تـهـذیـبه دوه کـلـچـره دوه دریـابــه یـــو ساحل
تور و سپین سره ګډ سوي نسته هيڅ تر منځ حایل

دوه توکمونه دوه رنــګونه د یوه پښت دوه جنسونه
دوه بــرداشـتــه لــه ژونـدونــه د عــاقل و د جاهل

دوه ښایسته دوه کـمـالـه دوه تـصـویره د یو حسن
یـــو ارمــان و دوه انــســانـــه یــو د بل د سر قاتل

یو کاروان و دوه ســاروانــه لــه پېړیو سرګردانه
دوه خـــوځـښـتـه یـــوه لاره دوه ربـــاطـه یـــو منزل

یـــو امــام دوه مـحـرابــونـه یـو مـنـبر دوه اذانونه
یـــو مـــرشد دوه تـلـقـیـنـونـه یـــو نــاقص و بل کامل

یـــو نـظـام و دوه قـــانـونـه یـو لښکر دوه بیرغونه
یـــو وطن و یـــو اولس خـــو، دوه آفـــتــه پر نازل

یو کـتـغ دوه دستـرخــانـه یو کوربه دوه ئي مهمانه
د زلـخـوړو مـېلـمستیا ده یـو ئــي شوم بـل ئي سائل

دوه نــکـلـونــه دوه داسـتـانـه د یـــوه ســوچ دوه بیانه
یـو شاعر دوه ئي جـهـانه، ګوره څه شي ئي لامل؟

آشاوا ــ کاناډا
۵ جولای ۲۰۱۹ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ